Essex County Council


**Talk, Listen, Cuddle - Essex**

**Pashto**

# د کورنۍ ژبې اهمیت

## د والدینو لپاره یوه معلومات پاڼه





# ژبه یو له هغو مهمو ډالیو څخه دی چې تاسو یې خپل ماشوم ته ورکوئ. مګر تاسو یې دا څنګه دالۍ کوئ؟ ځواب ساده دی. هره ورځ په کور کې له خپلو ماشومانو سره په خپله ژبه خبرې وکړئ!

پدې وروستیو کې ډیری والدین ویلي دي چې په ښوونځیو کې او ښوونځي څخه دمخه تعلیمي اداراتو کې ښه نیت لرونکي کارکونکو دوی ته ویلي چې په کور کې په انګلیسي ژبه خبرې وکړي ځکه چې دا به د دوی ماشومانو مرسته وکړي تر څو په ښوونځي او د لوبو په ګروپونو کې په راحتي سره ځای پر ځای شي. دا خبره آشنا ښکاري کنه؟

ندر یا پدر اندر جدید خود انگلیسی زبان است بپیوندد. والدین اندری اغلب در رابطه به اینکه پسر یا دختر جدیدشان هر چه سریعتر زبان انگلیسی را بیاموزند بسیار مضطرب میباشند و در منزل قانون صحبت کردن صرف به زبان انگلیسی به زودی برقرار میشود. آیا این موضوع باز هم آشنا به نظر می رسد؟



یو بل ستونزمن وضعیت چې رامینځته شوی دا دی چې یو ماشوم له بل هیواد څخه راځي ترڅو له خپل مور یا پلار او نوي انګلیسي ژبې ویونکې میرنۍ مور یا میرنی پلار سره یوځای شي. میرنۍ مور او میرنی پلار اکثراً د خپل نوي او زوی یا لور لپاره ډېر اندیښمن وي او غواړي چې هغه ژر تر ژره انګلیسي ژبه زده کړي او په دې توګه په کور کې یوازې په انګلیسي ژبه د خبرو کولو قانون حاکم کیږي. دا خبره هم آشنا ښکاري کنه؟

په داسې ځایونو کې چیرې چې یوه کورنۍ د نورو داسې کورنیو سره نږدې ژوند نه کوي کوم چې د دوی په ژبه خبرې کوي، دا کیدی شي د والدینو لپاره په ځانګړې توګه ستونزمن وي چې د خپلو ماشومانو د کورنۍ ژبې مهارتونه وساتي او ورته وده ورکړي. په ایسیکس کې مورږ د ځانګړو ژبو د ویونکو شمېر مخ په ډیریدو دی چې د یو بل په موندلو یې پیل کړی او یو بل سره د لیدلو لپاره منظم فرصتونه رامینځته کوي، مګر دا وضعیت د هغو کورنیو لپاره فرق کوي کوم چې په کلیوالو ټولنو کې ژوند کوي او یا د دوی کاري شرایط داسې دي چې د نورو خلکو سره کوم چې د دوی په لومړۍ ژبه خبرې کوي د ټولنیزو ناستو لپاره خورا محدود وخت لري.

## مګر انګلیسي ژبه به څنګه شي؟


هغه ماشومان چې په انګلستان کې ژوند کوي انګلیسي ژبې ته اړتیا لري ترڅو په ښوونځي او ژوند کې بریالي شي. له نیکه مرغه، کوچني ماشومان کولی شي په اسانۍ سره دوه ژبې شي. یو څوک چې له یوې څخه په زیاتو ژبو حاکم وي، د مطالعې، سفر او کار کولو لپاره د نورو په مقایسه ډېر فرصتونه لري — هم په انګلستان کې او هم په ټوله اروپا/ نړۍ کې. مهم ټکي: دوه ژبی کیدل د ماشومانو سره د تفکر غښتلي مهارتونو په رامینځته کولو کې مرسته کوي او په اوږد مهال کې معمولاً د غوره اکاډمیک درجې د ترلاسه کولو پایلې هم له ځان سره لري.

## کورنۍ ژبه ولې مهمه ده؟

په هغه ژبه چې تاسو د خپلو ماشومانو سره خبرې کوئ هغه به لومړنۍ ژبه وي چې دوی به یې زده کړي. دا له تاسو، د کورنۍ له پاتې غړو او د هغوی له کلتور او ټولنې سره د دوی لومړۍ اړیکه ده. دا هغه ژبه ده چې دوی یې د لومړي ځل لپاره د خپل شاوخوا نړۍ په اړه د زده کړې لپاره کاروي. دا هغه ژبه ده چې د دوی سره مرسته کوي تر څو د "ټول ژوند لپاره عیار شي" — او تاسو د دې پروسې یوه مرکزي برخه یاست! دا له ډیرو لارو څخه یوه لاره دی چې والدین د خپلو ماشومانو لومړني ښوونکي دي.

## ستاسو د کورنۍ ژبې د کارولو ګټې څه دي؟

ستاسو د کورنۍ ژبې کارول ستاسو ماشومان ستاسو له کورنۍ سره نښلوي. دا ستاسو د مهمو کلتوري دودونو، او ملګرو او ګاونډیانو سره هم اړیکه رامنځته کوي کوم چې په ورته ژبه خبرې کوي. د خپلې کورنۍ ژبې کارول تاسو ته اجازه درکوي چې خپلو ماشومانو ته زده کړه ورکړئ، او نوي شیان یوځای زده کړئ. تاسو کولی شئ د نویو تجربو او کلمو په اړه خبرې وکړئ؛ تاسو کولی شئ حروف او شمیرې تمرین کړئ. دا ټول شیان ستاسو د ماشومانو د لومړني زده کړې یوه مهمه برخه ده — او دا به ستاسو لپاره اسانه او ډیره جالبه وي که تاسو دا په خپله ژبه کې ترسره کړئ چې ورسره خورا هوسا یاست.





## که زه یو څه په انګلیسي ژبه خبرې کولی شم، ایا زه یې په کور کې وکاروم؟

تاسو باید په هغه ژبه خبرې وکړئ چې تاسو یې په کارولو سره خورا آرام یاست. که ستاسو کورنۍ ژبه ستاسو د انګلیسي ژبې په پرتله پیاوړې وي، نو تاسو باید د خپلو ماشومانو سره د ژبې قوي مهارتونو د رامینځته کولو لپاره کورنۍ ژبه وکاروئ.

## ایا زما ماشومان به د دوو ژبو په کارولو سره مغشوش شي؟

کوچني ماشومان کولی شي په یو وخت کې دوه یا ډیرې ژبې زده کړي. کله چې ماشومان د داسې لویانو سره د خبرې کولو فرصتونه ولري چې دوی سره خبرې کوي او ورته غوږ نیسي، دوی به په چټکۍ سره ژبه زده کوي. ځینې وختونه ماشومان د دواړو ژبو کلمې یا جملې سره یوځای کوي. خیر ده! ښایي داسې ښکاري چې دوی مغشوش دي، مګر دوی په حقیقت کې د دواړو ژبو قواعد او لغتونه زده کوي او په خپلو مغزونو کې یې تنظیموي. دا د ښه زده کړې او فکر کولو نښه ده.



## زما ماشومان ترجیح ورکوي چې انګلیسي خبرې وکړي. زه باید څه وکړم؟

لومړی، اندیښنه مه کوئ. کېدی شي ستاسو ماشومان انګلیسي غوره کړي ځکه چې د دوی ټول ملګري په دې ژبه خبرې کوي. د خپلو ماشومانو سره د ژبې په اړه خبرې وکړئ. ورته تشریح کړئ چې د دواړو ژبو زده کول مهم دي. د دوی په ژوند کې د ځانګړو خلکو په اړه خبرې وکړئ چې ستاسو په خپله ژبه خبرې کوي، په شمول د خوښې نړدې خپلوان او ملګري. ورته تشریح کړئ چې هغه خلک چې دوه ژبې دي دوه چنده ډیر چانسونه لري چې ملګري پیدا کړي او د نوي کلتورونو په اړه زده کړي.

د کتابونو په لوستلو، سندرو ویلو او په دې ژبه کې د لوبو په کولو سره خپله ژبه په زړه پورې کړئ؛ او په هر ډول فعالیت کې چې تاسو دخیل یاست دا ژبه وکاروئ. ستاسو ژبه یوه ډالۍ ده، او په دې ژبه خبرې کول ستاسو کورنۍ سره نښلوي!

په یاد ولرئ چې د خپلو ماشومانو سره ستاسو اړیکه په ژبه پورې اړه لري. لکه څنګه چې د دوی عمر ډېرېږي، خبرې کول به په زیاتیدونکي توګه ډېر مهم شي. تاسو به د مختلفو موضوعاتو په اړه خبرې اترې ولرئ. دا به تاسو او ستاسو ماشومانو دواړو ته اسانه او ډیر جالب وي که تاسو په ورته ژبه یو بل سره خبرې کوئ.



## زه په کور کې څه کولی شم؟

- کیسې ووایئ او خپلو ماشومانو ته په خپله مورنۍ ژبه کتاب ولولئ.
- هغه نظمونه، سندرې او شعرونه ورسره شریک کړئ چې تاسو په ماشومتوب کې زده کړي.
- په خپله ژبه کې د ساتیرۍ فعالیتونو پسې وګرځئ، د بېلګې په ډول ستاسو په ځایي کتابتون کې د کیسې وخت، ځایی جشنونه او کلتوري پیښې او خپرونې.
- په خپل نږدې عامه کتابتون کې په دوه ژبي کتابونو، بې کلمې کتابونو، یا ستاسو په مورنۍ ژبې کتابونو پسې وګرځئ.



## کیسې په دوو ژبو

یو له غوره شیانو څخه چې تاسو یې کولی شئ دا دی چې له خپل ماشوم سره په کورنۍ ژبه لوستل وکړئ. ستاسو نږدې عامه کتابتون کیدی شي د ماشومانو لپاره د کیسې داسې کتابونه ولري چې په انګلیسي او ستاسو په کورنۍ ژبه دواړه متنونه ولري. ستاسو د ماشوم ښوونځی هم کیدای شي له دې څخه ځینې شیان ولري.

www.tlc-essex.info